# د ټولنيزې کور موندنې د ملاتړ فورمې ډکولو لپاره

## په اسانه لوستل کېدونکی لارښود

**اپرېل 2022**




## دغه لارښود د څه په اړه دی؟




دغه لارښود تاسي سره ټولنيزې کور موندني ملاتړ په موخه خپلو سيمه‌ييزو چارواکو ته د غوښتنليک ډکولو کي مرسته کوي.

کېدای شي دغي غوښتنليک ډکولو کي د ملاتړ لپاره يو اعتباري کس ته اړتيا ولرئ.




ټولنيزې کور موندني ملاتړ لپاره غوښتنليک کي ډېر معلومات او اسناد شامل دی.

کولی شئ د کور موندني ټولنيز ملاتړ د غوښتنليک فورمه د خپلې سيمي له سيمه‌ييزو چارواکو څخه تر لاسه کولی شئ.

## څوک د کور موندني ټولنيز ملاتړ تر لاسه کولی شي؟



که چېرې د ژوند کولو په موخه خپل شخصي ځای پېرلو لپاره په کافي اندازه پيسي نه لرئ کولی شئ د کور موندني ټولنيز ملاتړ تر لاسه کړئ.

## له کوم ځای څخه د کور موندني ټولنيز ملاتړ اخيستلی شي؟



تاسي کولی شئ خپلو سيمه‌ييزو چارواکو (ښار يا د ولسوالی شورا) يا بلې اداري څخه چي د کور موندني تاييد شوې اداره بلل کېږي د کور موندني ټولنيز ملاتړ فورمه تر لاسه کړئ.

چي د کور موندني تاييد شوې اداره داسي اداره ده چي يوې ډلې خلکو ته کور وړاندې کولی شي، لکه Clúid او سايمن ټولنه.

د معلوليت هغه خدمتونه چي داسي ورسره وصل ياست کېدای شي د کور موندني يوه تاييد شوې اداره وي.

## د ټولنیزې کور موندنې د ملاتړ ډولونه



د ټولنیزې کور موندنې د ملاتړ ځینې هغه ډولونه چې تاسې یې له خپلو سیمه‌ییزو ادارو تر لاسه کولی شئ په لاندې ډول دي:

تاسې له سیمه‌ییزې ادارې یا د کور موندنې تایید شوې ادارې څخه کورونه یا اپارتمانونه په کرایه کولی شئ.

تاسې کولی شئ د کرایي استوګنځای برنامه (RAS) او د کور موندنې د مرستې تادیې برنامه (HAP) په څېر برنامو له لارې کور یا اپارتمان په کرایه کړئ.



مشران خلک، بې کوره خلک، مسافرین، او معلولین کور موندنې برخه کې ملاتړ تر لاسه کولی شي.

که د غوښتنلیک فورمې ډکولو برخه کې مرستې ته اړتیا لرئ کولی شئ د خپلې سیمه‌ییزې ادارې د کور موندنې سکتور یا د ښاریانو د معلوماتو مرکز سره اړیکه ونیولی شئ.

Citizens Information




داسې یو کس چې تاسې پرې باوري یاست هم تاسې سره د فورمې ډکولو کې مرسته کولی شي.

## د فورمې ډکولو لپاره مهم معلومات



لطفاً خپل ځوابونه په څرګند ډول ولیکئ.

د غوښتنلیک فورمې ټولو پوښتنو ته ځوابونه ویل اړین دي.

تر هغې پورې چې ټول اړین معلومات نه وي لیکل شوي ستاسې غوښتنلیک وړاندې نه ځي.




که پوښتنه پر تاسې نه پلي کېږي N/A ولیکئ.

ډاډه شئ هر هغه ځای کې چې د لاسلیک غوښتنه شوې لاسلیک وکړئ.




ستاسې سیمه‌ییزه اداره به ډاډ ترلاسه کوي چې حقونو او ستاسې معلوماتو اړوند د GDPR قوانین پلي کوي.

که په دې اړه کومه پوښتنه لرئ، له خپلې سیمه‌ییزې ادارې څخه یې وپوښتئ.




تاسې باید فورمې سره نور اسناد هم ولیږئ. له دې څخه ډاډه کېدو لپاره چې هر څه مو په یاد دي یو چک لېټ هم ورکړل شوی دی.

تر هغې پورې چې ټول اسناد نه وي استول شوي ستاسې غوښتنلیک به وړاندې ونه لاړ نشي.



سیمه‌ییزه اداره کېدای شي وروسته له تاسي د نورو معلوماتو غوښتنه هم وکړي.

که ستاسي تفصیلاتو کې بدلون راشي (لکه که واده وکړئ یا نوی کور ته کډه شئ)، باید سیمه‌ییزه اداره خبر کړئ.



د سیمه‌ییزې ادارې لیکونو او برېښنالیکونو ته ځواب ورکول ډېر اړین دی.

که ټولو لیکونو او برېښنالیکونو ته ځواب ورنه کړئ سیمه‌ییزه اداره به تاسي انتظار لېست څخه وباسي. دا په دې معنی دی چې تاسي به د کور موندنې ټولنیز ملاتړ ترلاسه نه کړئ.




تاسي یو نژدې کس له سیمه‌ییزې ادارې څخه راغلو لیکونو او برېښنالیکونو ځوابولو کې مرستې لپاره انتخابولی شئ.

هغوی ځواب ویونکی بلل کیږي.



سیمه‌ییزه اداره به ستاسي ځواب ویونکی ته ووایي چې تاسي ته یي لیک یا برېښنالیک استولی دی.

لطفاً سیمه‌ییزې ادارې ته تر استولو وړاندې د ټولو څیزونو یوه کاپي واخلئ.

## چک لېست



دغه فورمه یو چک لېست لري، او په دې کې ټول هغه اضافي معلومات او اسناد چې تاسې یې باید د خپل غوښتنلیک له فورمې سره واستوئ شامل دي.

باید په یاد ولرئ چې د فورمې ټولو پوښتنو ته ځواب ورکړئ، که نه ستاسې غوښتنلیک به وړاندې نه ځي.





هڅه وکړئ چې خپله فورمه خپله د سیمه‌ییزې اداري دفتر ته وسپارئ او هغوی به داډ ترلاسه کړي چې تاسې ټولو اړینو پوښتنو ته ځواب ویلی دی.

هغوی به همدارنګه ډاډ ترلاسه کړي چې تاسې د غوښتنلیک لپاره اړین ټول اضافي اسناد له ځانه سره لرئ.


مونږ به لاندې ټولو هغو اضافي معلوماتو او اسنادو ته چې اړین دي کتنه وکړو او



## شخصي معلومات

- تصویر لرونکي پېژندپانه (پاسپورټ یا د موټر چلولو جواز).
- د زېږېدنې سند (ستاسې لپاره او هغه چا لپاره چې له تاسې سره غوښتنه کوي، لکه ستاسې شریک).
- د PPS شمېرې (ستاسې لپاره او هغه چا لپاره چې له تاسې سره غوښتنه کوي).
- ستاسې د ادرس ثبوت (لکه د برېښنا بل)



## د عوایدو معلومات



موږ د ټولو هغو پیسو چې غوښتونکي خلک یې تر لاسه کوي لکه اجوره او عاید معلومات او ثبوت ته اړتیا لرو.

### استخدام شوی

- که تاسي (او هر هغه څوک چې تاسي سره غوښتنه کوي) تېرو 12 میاشتو کې دنده لرلی وي، موږ به لاندینو ته اړتیا ولرو:

### له دغه کال څخه



| Employee No. | Employee Name | Process Date | National Insurance Number |
| --- | --- | --- | --- |
| 0834 | FULL NAME HERE | 20/01/2006 | NP000000B |

| Payments | Units | Rate | Amount | Deductions | Amount |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| Gross Salary | 1.00 | 3750.00 | 3750.00 | PAYE Tax | 845.19 |
| Monthly | | | | National Insurance | 265.82 |
| Payment Method: | | | | | |
| Cheque | | | | | |

FULL NAME
35 ANYWHERE COURT
KENSINGTON
SW3 000

| This Period | | Year To Date | |
| --- | --- | --- | --- |
| Tax Period: 10 | Tax Code: 489L | Total Gross Pay TD | 37500.00 |
| Total Gross Pay | 3750.00 | Gross for Tax TD | 37500.00 |
| Gross for Tax | 3750.00 | Tax Paid TD | 8451.90 |
| Earnings for NI | 2730.00 | Earnings for NI TD | 27300.00 |
| | | National Insurance TD | 2656.20 |

COMPANY NAME

Net Pay 2639.19

- د ټولو هغو کلونو چې تاسي د سرکالي له جنوري څخه درلود تادیه پاڼې.

**یا**

- تادیه او د مالیاتو لنډیز (سرکال لپاره)

تاسي یې د عوایدو پرلیکه خدمتونو (MyAccount) څخه تر لاسه کولی شئ. په دې کې د سرکال لپاره تر دې مهاله ستاسي ټولې دندې شاملې دي.

### له تېر کال څخه

- مسؤلیت لیک

تاسي یې د پرلیکه خدمتونو له لارې له عوایدو (MyAccount) څخه یا د مالیاتو سیمه‌ییز دفتر څخه غوښتلی شئ.

مسؤلیت لیک یو مالي کال لپاره ستاسي د مالي مسؤلیت وروستی بیاکتنه ده. له دې وړاندې د P21 – د کال د پای اظهارلیک په نوم پېژندل کېده.

**او**

- د دندې تفصیلي لنډیز

تاسي یې د عوایدو پرلیکه خدمتونو (MyAccount) څخه تر لاسه کولی شئ.

## د عوایدو معلومات (ادامه)

An Roinn Coimirce Sóisialaí
Department of Social Protection

### د ټولنیزې ښېګڼې عاید

- که تاسي (او هر هغه څوک چې له تاسي سره غوښتنه کوي) د ټولنیزې ښېګڼې تادیې ترلاسه کوي، تاسي یې باید معلومات او ثبوت واستوئ. تاسي د ټولنیز خوندیتوب څانګي څخه دغه بیانیه ترلاسه کولی شئ.

- دغه بیانیه هغه پیسې چې تاسي له هغوی څخه ترلاسه کړي دي ښیي.



### شخصي کار

- که تاسي شخصي کار لري، تاسي لږ تر لږه د 2 کلونو حسابونه سره د تفتیش راپور او د ارزوني خبرتیا او / یا د ځان ارزوني تایید پاڼي ته (د تېرو 12 میاشتو لپاره) اړتیا لرئ.

### تقاعد




- که تاسي د عامه خدمتونو د تقاعد د برنامې غړي یاست، یا هغه څه چې د تقاعد اضافي مرسته (ASC) بلل کېږي لرئ، نو تاسي باید لاندیني هم وړاندې کړئ
  - خپل د تېر کال وروستۍ تادیه پاڼه، او
  - سږکال څخه خپل وروستۍ تادیه پاڼه

## اضافي معلومات چې کېدای شي پر تاسي تطبيق شي (که پر تاسي نه تطبيق کېږي، کولی شئ N/A وليکئ)






- ستاسي او د هغه کس چې تاسي سره غوښتنه کوي د تابعيت معلومات او ثبوت يا ايرلينډ کي د پاتې کېدو اجازه.

(د مثال په توګه له عدليې وزارت څخه يو ليک).

- نکاح ليک




- د جلا کېدو / د طلاق د تړون کاپي




- که اوسمهال کرايي کور کي ياست د کرايي د تړون او د استوګنيزو کرايو بورډ د ثبت معلومات او ثبوت.




- د هر هغه ملکيت يا ځمکي چې تاسي (يا هر هغه څوک چې تاسي سره غوښتنه کوي) مالک ياست په اړه معلومات.دغو معلوماتو کي بايد د موقعيت، ارزښت، د ملکيت حالت او هر هغي پيسي چې تاسي ورڅخه ترلاسه کوئ شامل وي.




- که تاسي کور لرئ او دغه ګروي له ستونزې سره مخ ده، تاسي خپل پور ورکوونکی څخه د بقایاو د ملاتړ واحد څخه لیک ته اړتیا لرئ.

- که وړاندي مو د کور موندني ټولنیز ملاتړ درلود د خپلي سیمي له سیمه‌ییزې اداري یا د کور موندني تایید شوې اداري څخه یو لیک.




- که اوس هلته ژوند نه کوئ له هغي سیمه‌ییزې سیمي سره د اړیکي معلومات او ثبوت، د مثال په توګه، دا هم ثبوت کېدلی شي چي تاسي وړاندې هلته اوسېدلئ.





- د بشپړ معلولیت او/یا طبي معلوماتو فورمه.

تاسي يې له خپلي سیمه‌ییزې اداري تر لاسه کولی شئ. د دغي فورمي په 18مه پاڼه نور معلومات هم شته.



- په دې اړه چي تاسي د دې لپاره چي کور ستاسي لپاره ډېر د لاس رسی وړ وي تاسي په کور کي موکو تجهیزاتو یا بدلونونو ته اړتیا لرئ د مسلکي معالج (OT) راپور.

## دغه فورمه 12 برخې لري او دا د دغو برخو لارښود دی




### برخه 1: ستاسي په اړه (شخصي تفصیلات)

- دغه برخه ستاسي د نوم، زیږېدنې نېټه، اوسنی ادرس او داسې نورو غوښتنه کوي.
- که کوم بل کس هم ستاسي سره د تولنیزې کور موندنې غوښتنه کوي (لکه ستاسي شریک)، هغوی هم باید خپل شخصي تفصیلات ډک کړي.



### برخه 2: تاسي د کوم ځای یاست (د تابعیت تفصیلات)

- دغه برخه له تاسي پوښتي چې چېرې زیږېدلې یاست، په کومه ژبه خبرې کوئ، ستاسي د تابعیت حالت، د مثال په توګه، ایا ایرلینډي یاست.

### برخه 3: چېرې کار کوئ (د دندې تفصیلات)




- دغه برخه له تاسي پوښتي چې ایا کار کوئ.
- دا ستاسي د ګومارونکې د تفصیلاتو لکه د هغوی د شرکت نوم او ادرس پوښتنه کوي.

### برخه 4: څومره پیسې ترلاسه کوئ (د عاید تفصیلات)

- تاسي باید د مالیاتو له تادیې وړاندې خپل اوونیز عاید یا اجوره (خالصه تادیه) ذکر کړئ. دا هغه پیسې چې تاسي یې له کار، ټولنیزې ښېګڼې، یا له نورو لارو تلاسه کوئ کېدلی شي.
- له هغې وروسته تاسي باید هغه څه چې ستاسي له پیسې کسر کېږي (کسر) لېست کړئ، دا PAYE, PRSI کېدلی شي.



| Employee No. | Employee Name | Process Date | National Insurance Number |
|---|---|---|---|
| 0834 | FULL NAME HERE | 20/01/2006 | NP000000B |

| Payments | Units | Rate | Amount |
|---|---|---|---|
| Gross Salary | 1.00 | 3750.00 | 3750.00 |
| Monthly | | | |
| Payment Method: | | | |
| Cheque | | | |

| Deductions | Amount |
|---|---|
| PAYE Tax | 845.19 |
| National Insurance | 265.62 |

FULL NAME
35 ANYWHERE COURT
KENSINGTON
SW3 000

| This Period | |
|---|---|
| Tax Period: 10 | Tax Code: 489L |
| Total Gross Pay | 3750.00 |
| Gross for Tax | 3750.00 |
| Earnings for NI | 2730.00 |

| Year To Date | |
|---|---|
| Total Gross Pay TD | 37500.00 |
| Gross for Tax TD | 37500.00 |
| Tax Paid TD | 8451.90 |
| Earnings for NI TD | 27300.00 |
| National Insurance TD | 2656.20 |

COMPANY NAME

Net Pay 2639.19

## برخه 5: نور هغه خلک چې تاسې سره غوښتنه کړې (د کورنۍ نور غړي)



- دغه برخه له تاسې د نورو هغو خلکو په اړه پوښتې چې تاسې سره یو کور کې ژوند کوي. د مثال په توګه، ستاسې شریک او ستاسې ماشومان.
- تاسې باید د هغوی نوم، د زیږیدنې نېټې، د زیږیدنې هېواد، د تابعیت حالت، جنسیت، مدني حالت په څېر تفصیلات وړاندې کړئ.

## برخه 6: اوس چېرې ژوند کوئ (اوسنی استوګنځای)



- دغه برخه په دې اړه چې چېرې ژوند کوئ او تفصیلاتو یې پوښتنه کوي.
- دا په دې اړه چې هغه کور چې تاسې په کې ژوند کوئ ستاسې خپل او کرایي دی او څه ډول استوګن کېدل دې پوښتې.
- که کرایي وي، تاسې یې باید معلومات او ثبوت وړاندې کړئ.
- دا د ملاتړ تر لاسه کولو لامل په اړه پوښتې (لکه د معلولیت لاملونه).



- له هغې وروسته تاسې باید تشریح کړئ چې هغه کور کې چې تاسې ژوند کوئ څه دي.

## برخه 7: وړاندې مو چېرې ژوند کړی دی (د استوګنځای تاریخچه)



- دا په دې اړه چې تېرو 5 کلونو په اوږدو کې مو چېرې ژوند کړی دی پوښتنه کوي.

## برخه 8: تاسې کوم کور ته اړتیا لرئ (د استوګنځای اړتیاوې)



- دغه برخه په دې اړه چې ایا ایرلینډ مسافر په توګه پېژندل کېږئ پوښتي.

دا په دې پوهېدلو لپاره ده چې ایا تاسې مسافر یاست او غواړې د مسافر د استوګنځای پروګرامونو کې ځای پر ځای شئ.


دا سیمه‌ییزې ادارې ته خپل د مسافرو د استوګنځای پروګرامونو غوره کولو لپاره اړین معلومات وړاندې کوي.



دغه معلومات دا چې ایا دغه کس د کور موندنې تولنیز ملاتړ وړ دی نه اغېزمنوي.



- دغه برخه همدارز په دې اړه چې خپل کور نور د لاس رسۍ وړ کولو لپاره د کور موندنې کوم ملاتړ ته اړتیا لرئ پوښتي. د مثال په توګه، د تشناب، خوب خونې بدلول یا کتاري اېښودل.




- که د طبي یا معلولیت لاملونو له امله یې غوښتنه کوئ، تاسي څخه به د خپلو اړتیاو د تفصیلاتو ورکولو غوښتنه وشي.



- که د طبي یا معلولیت لاملونو له امله یې غوښتنه کوئ، تاسي باید همدار از بله فورمه، د معلولیت او/یا طبي معلوماتو فورمه، ډکه کړئ.

دغه فورمه خپلې سیمه‌ییزې ادارې څخه ترلاسه کولی شئ. په 18مه پاڼه کې دغې فورمې په اړه نور معلومات هم شته.

## برخه 9: د غوښتنلیک بنسټونه



- تاسي د کور موندنې ملاتړ لپاره یوازې یوې سیمه‌ییزې ادارې ته غوښتنه کولی شئ.



- د هغې سیمه‌ییزې ادارې چېرې چې غواړئ ژوند وکړئ نوم به ستاسي د غوښتنلیک د فورمې پوښ‌پاڼه کې لیکل شوی وي.

- دغه سیمه‌ییزه اداره باید هغه سیمه کې چې ژوند کوئ موجود وي.




- له تاسي به وپوښتل شي چې غواړئ د دغې سیمې کومه برخه کې ژوند وکړئ.




- تاسي باید دغه سیمې په احتیاط انتخاب کړئ، د خدمتونو، ټرانسپورټ، کورنۍ او ملګرو سره اړیکې، او خپل انتخاب شوي سیمه کې د کورونو بیې په څېر څیزونو ته پام وکړئ.

- که چېرې کور کې اوسېدونکی کوم کس له بلې سیمې سره سیمه‌ییزه اړیکه ولري تاسي هغې سیمې ته غوښتنه کولی شئ.




- سیمه‌ییزه اړیکه هغه مهال ده چې:

  - تېرو 5 کلونو کې هلته اوسېدلی وي،

  - د هغې سیمې 15 کیلومترۍ کې کار کوي،



  - هلته ښوونځی یا کالج ته ځي،

  - هغه سیمه کې د زده کړې یا روغتیایي خدمتونو ته اړتیا لري،



  - هغه سیمه کې له 2 کلونو راهیسي ژوند کوونکي خپلوان لري. خپلوانو کې والدین، مشر اولاد یا خویندې او ورونه شامل دي.
    کېدای شي نور خپلوان چې د کورنۍ غړی سره نژدې اړیکه لري شامل وي.



### برخه 10: نور کورونه چې تاسې یې څښتن یاست (د نورو ملکیتونو

- دغه برخه هر هغه ملکیت یا ځمکې په اړه چې تاسې یې څښتن یاست پوښتي.
- دغه برخه هر هغه ملکیت یا ځمکې په اړه چې هغه څوک چې تاسې سره غوښتنه کوي یې څښتن دی پوښتي.
- که دغه پوښتنې پر تاسې نه پلې کېږي په چوکاټونو کې n/a ولیکئ.




### برخه 11: عمومي نظم څخه سرغړونه او نور معلومات

- دا په دې اړه چې ایا کله مو د ایرلینډ ایالتي پولیسو سره ستونزه درلوده.

### برخه 12: نور معلومات




- هر هغه څه چې کېدای شي مهم او ستاسې غوښتنلیک څخه ملاتړ لپاره ګټور وي اضافه کړئ.

## اعلامیه




د غوښتنلیک دغې فورمې په پای کې ستاسې د لاسلیک لپاره یوه برخه ده چې «اعلامیه» بلل کیږي.




دغه اعلامیه پاملرنې سره ولولئ او لاسلیک یې کړئ. که بل کس له تاسې سره غوښتنه کوي، هغوی هم باید لاسلیک یې کړي.



که دغې فورمې ډکولو کې مرستې ته اړتیا لرئ کولی شئ د خپلې سیمه‌ییزې ادارې د کور موندنې څانګې یا د اتباعو د معلوماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ او هغوی به مو مرسته وکړي. ستاسې باوري کس هم له تاسې سره مرسته کولی شي.

# د معلولیت / طبي معلوماتو فورمه




## دغه فورمه د څه په اړه ده؟

که د معلولیت له امله د کور موندني تولنیز ملاتړ غوښتنه کوئ، تاسي باید یوه بله فورمه ډکه کړئ.

دغه فورمه HMD – Form 1 بلل کېږي. کولی شي خپلي سیمه‌ییزي اداري څخه وغواړئ چي دغه فورمه درکړي.




### مهم معلومات

که معلولیت یا طبي شرایط لرئ کېدای شي د کور موندني ملاتړ لپاره د لومړیتوب حالت تر لاسه کړئ.

دا به ستاسي د کور موندني حالت پوري اړه ولري.

دغه فورمه څلور برخې لري. تاسي باید برخه 1 او برخه 2 یې په خپله ډک کړي




برخه 3 او برخه 4 باید د روغتیایي پاملرني متخصصین ستاسي لپاره ډک


روغتیایي متخصص کي لاندیني متخصصین شامل دي: مشاور، داخله ډاکټر (GP)، د رواني روغتیا نرس، د عامي روغتیا نرس، مسلکي معالج یا تولنیز کارکوونکی.



که د دي لپاره چي کور ستاسي لپاره نور هم د لاس رسی وړ وي کور کي بدلون ته اړتیا ولرئ، ستاسي د کور اړتیاوي پام کي نیولو سره تاسي به د مسلکي معالج (OT) راپور ته اړتیا ولرئ.

## دغه فورمه 4 برخي لري او دا د دغو څلورو برخو لارښود دی





### برخه 1: د معلولیت او/یا طبي معلومات



- دغه برخه له تاسي غواړي د خپل معلولیت او / یا طبي حالت په اړه معلومات ولیکئ.

### برخه 2: ستاسي په اړه (شخصي تفصیلات)



- دغه برخه له تاسي غواړي چې د خپل ځان په اړه معلومات ولیکئ د مثال په ډول: ستاسي نوم او د زیږیدنې نیټه.

### برخه 3A: د روغتیایي متخصص تفصیلات



- دغه برخه کې دوه روغتیایي متخصصین خپل د اړیکي تفصیلات لیکي.
- هغوی ستاسي له غوښتنلیک څخه ملاتړ لپاره د فورمې ځینې برخې ډکوي.



### برخه 3B: د اوسني استوګنځی تفصیلات

- دغه برخه د روغتیايي پاملرنې متخصصینو څخه ستاسې اوسنی استوګنځای او دا چې ایا پر تاسې ناوړه اغېز لري په اړه پوښتي.



### برخه 3C: د استوګنځای تفصیلات

- دا د روغتیايي پاملرنې متخصصینو څخه په دې اړه چې د استوګنځای بدلولو څنګه تاسې لپاره غوره دی پوښتنه کوی.



### برخه 3D: اړتیاو څخه ملاتړ

- دغه برخه د روغتیايي پاملرنې متخصصینو څخه هغو اړتیاو په اړه چې خپلواک ژوند لپاره ورته اړتیا لرئ پوښتي.



### برخه 4: د روغتیايي پاملرنې متخصص اعلامیه

- دوه د روغتیايي پاملرنې متخصصین دغه فورمه لاسلیکوي او نېټه پرې لیکي.